**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د عامه مصالحو لپاره د کارکوونکي تړاکل

**(ژباړه)**

بخاري پخپل صحیح کې له ابن عباس رضي الله عنه څخه راویت کړی، چې وایي:

**«أَنَّ نَفَرًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرُّوا بِمَاءٍ فِيهِمْ لَدِيغٌ أَوْ سَلِيمٌ فَعَرَضَ لَهُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَاءِ فَقَالَ هَلْ فِيكُمْ مِنْ رَاقٍ إِنَّ فِي الْمَاءِ رَجُلًا لَدِيغًا أَوْ سَلِيمًا فَانْطَلَقَ رَجُلٌ مِنْهُمْ فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ عَلَى شَاءٍ فَبَرَأَ فَجَاءَ بِالشَّاءِ إِلَى أَصْحَابِهِ فَكَرِهُوا ذَلِكَ وَقَالُوا أَخَذْتَ عَلَى كِتَابِ اللَّهِ أَجْرًا حَتَّى قَدِمُوا الْمَدِينَةَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخَذَ عَلَى كِتَابِ اللَّهِ أَجْرًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِنَّ أَحَقَّ مَا أَخَذْتُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا كِتَابُ اللَّهِ»** (رواه بخاري: 5737)

*ژباړه: د رسول الله صلي الله علیه وسلم څو تنه اصحاب د اوبو له سیمې تېرېدل چې د دغه ځای په خلکو کې یو لړم چیچلی یا مار چیچلی و، نو د دغو خلکو یو تن اصحابو ته راغی او ویې ویل: ایا په تاسو کې دم کوونکی شته؟ ځکه دلته یو کس مار یا لړم چیچلی دی. یو صحابي ورسره روان شو او د فاتحې سورت یې د څو پسونو په بدل کې ورباندې ولوست. هغه کس روغ شو او ده هم پسونه د خپلو ملګرو په لوري راوستل، دوی دغه کار ناسم وباله او ویې ویل: تا د الله د کتاب (د لوستلو) په بدل کې مزد واخیست، تر دې چې مدینې ته را ورسېدل. هلته یې وویل: اې رسول الله! ده د الله د کتاب (د لوستلو) په بدل کې مزد اخیستی دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «تاسو د هغه څه وړ یئ، چې د الله د کتاب (د لوستلو) په بدل کې مو د مزد په توګه اخیستي دي.»*

**"رقاه"** دم یې کړ. **"الشاء"** د شاة جمع ده، چې پسه ته ویل کېږي. **"برأ یا برئ"** له نارغی څخه روغ شو.

له دغه حدیث څخه ښــکاري چې د نورو چارو په څېر د عبادت په بدل کې هم مزد اخیســـتل روا دي. لکه څنګه چې دغه کس یو ناروغ د قرآن (فاتحې سورت) په تلاوت سره دم کړ او په بدل کې یې مزد ترې واخیست، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورڅخه منعه نه کړ؛ بلکې بیانوي چې د قرآن لوستلو په بدل کې هم مزد اخیستل مستحب دي.

د قرآن لوستلو په بدل کې مزد اخیستل یوازې په دعا ویلو سره نه دي، بلکې د قرآن تدریس هم پکې شاملېږي. پر همدغه ا ساس هغه څوک چې مصروفیت یې د قرآن تدریس وي او کومې پیسـې چې له دې لارې لاسـته راوړي، د – خدای په مرسـته- حلالې او پاکې دي. عمر رضـــی الله عنه د قرآن لپاره معلمان وټاکل او هغوی ته به یې له بیت المال څخه حقوق ورکول؛ دا موضـــوع یو بل دلیل دی، چې د عباداتو په بدل کې مزد اخیستل مباح کوي. همدارنګه په دغه حدیث کې راغلي، چې د عامه مصلحتونو په بدل کې هم مزد اخیستل کېدای شي. دا چې د مسلمانانو لپاره د قرآن تدریس یو عامه مصلحت دی او عمر رضی الله عنه هم د خلیفه په توګه د قرآن د معلمانو لپاره له بیت المال څخه تنخواوې ټاکلې وې.

د ابن ابي شيبه په مصنف کې له وضين بن عطاء څخه روايت شوی، چې وايي: په مدينه کې درې معلمان وو، چې ماشومانو ته به يې تدريس کاوه، نو عمر رضی الله عنه ټولو ته هره مياشت پينځلس "درهم او يا ديناره" تنخوا ورکوله.

لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د بدر د هغو بنديانو لپاره چې مال يې نه درلود، فديه داسې وټاکله چې د مسلمانانو پينځلسو اولادونو ته دې لوستل او ليکل ور زده کړي. تعليم د مسلمانانو يو مصلحت دی او رسول الله صلی الله عليه وسلم به هم هغو بنديانو ته چې دغه مصـــلحت يې پرځای کاوه، د کار په بدل کې مزد ورکاوه او مزد يې هم له زندان څخه د دوی ازادول وو. دا څرګنده ده چې د بنديانو فديه پر مسلمانانو پورې اړوند يو غنيمت دی؛ نو د معلم د مزد لپاره د غنيمتونو مصرفول دا ښيي، چې د عامه ګټو او مصلحتونو د مخته وړلو لپاره د کارکوونکي ټاکل روا دي.

طبابت هم يو عامه مصلحت دی، چې د خوندي کولو لپاره يې کارکوونکی ټاکل کېدلی شي؛ لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسـلم د مسـلمانو ناروغانو د درملنې لپاره يو ډاکتر وټاکه. په ټولنه کې د خلکو مصـلحتونه ډېر دي، چې په هغو کې برېښـنا، اوبه، مواصلاتي لارې، نقليه او د اړيکو وسايل، مدرسې/ښوونځي، روغتونونه، د عمومي ځايونو پاکول، د املاکو، مالونو او ډېرو نورو ځايونو ساتنه شامل دي، چې د ټولو لپاره کارکوونکی يا مزدور ټاکل روا او حتی واجب دي؛ ځکه دغه ټول موارد د خلکو مصلحتونه دي، چې له هغو پرته په سم ډول د خلکو ژوند مخته نه ځي. پر همدغه ا ساس د دغو مصلحتونو خوندي کول او ترسره کول واجب دي، ترڅو د خلکو په ژوند کې اسانتياوې رامنځته شي؛ ځکه هر هغه څه پخپله واجبېږي، چې له هغو پرته واجب نه ترسره کېږي.

همدارنګه اسلام او د اسلام پيغمبر موږ ته راښودلې، چې که چېرې په اوسني وخت کې عامه مصلحتونو ته پام نه کېږي، مانا يې دا نه ده چې د دغو کارونو ترسره کول د دولت دنده نه ده؛ بلکې لامل يې دا دی چې اســـلامي دولت (خلافت) نشـــته دی او د هغه منهج ځنډېدلی دی. مګر کوم وخت چې ا سلام دولت (خلافت) درلود او د هغه احکام يې پلي کول؛ نو د مسلمانانو خليفه عمر بن خطاب رضـی الله عنه داسـې خبره وکړه، چې د تاريخ په پاڼو کې تر اوسـه ثبت شـوې او هېڅکله به محوه نه شي، هغه فرمايي: که چېرې په عراق کې د اوښ پښه وښوييږي، نو زه وېرېږم چې الله به له ما څخه وپوښتي، چې لاره دې ولې نه وه ورته هواره کړې. اې ورونو يوازې يو اوښ نښـــيي، نه انســـان! د مســـلمانانو خليفه انديښـــنه لري، چې که چېرې د هغه په اړه بې‌پروايي وکړي، د الله پر وړاندې به وپوښتل شي. اوس تاسو پخپله فکر وکړئ، چې د انسان په اړه به د خلفاوو توجه څنګه وي.

ايا دا ډول خبره مو د خليفه لرلو ته نه هڅوي، چې زموږ په اړه له الله تعالی څخه وېرېږي، زموږ مصـــلحتونه خوندي کوي او زموږ د چارو د ترتيب او تنظيم لپاره مناســـب کارکوونکي ټاکي؟ دا کار د مهربانۍ او منت له مخې نه کوي، بلکې د الله تعالی د قهر له وېرې او د هغه سبحانه وتعالی د رضيات د لاسته راوړلو لپاره يې ترسره کوي.

**ژباړن: صهيب منصور**